**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ليکوال: سراج الحق ببرک زی خدراڼ ۲۰۲۱/۱۲/۰۴

# افغانانو ته د هند په بشري مرستو کې د منافقو پاکستاني پوځيانو نيابتي جګړه




The Indian government sent a note verbale to Pakistan for allowing movement of trucks carrying 50,000 metric tonnes of wheat to Afghanistan.

هند ته پاکستان اجازه نه ورکوي، څو افغانستان ته بشري مرستې غنم او درمل ورسوي. هند له څه باندې يوې مياشتې راهيسې له پاکستان څخه دا غوښتنه کوي، د ځمکې له لارې زرګونه متروېک ټنه مرسته شويو غنمو او ژوند ژغورنکي درملو انتقاللو اجازه ترلاسه کړي. هند غواړي په افغانستان کې د بشري ناورين د مخنوي لپاره له افغانانو سره بشري مرستې وکړي. خو پاکستان لا تر اوسه له خپلې خاورې د يادو شويو مرستو تېريدو اجازه نه ده ورکوې. د راپورونو له مخې پاکستان د هند دا وړانديز رد کړي و. خو بيا هندي چارواکي د چټک غبرګون تمه درلوده، چې پاکستانی لوری به ډېر زر په دې اړه مثبت ځواب ورکړي او د مرستو انتقالو اجازه ورکړي، څو د سخت ژمي د رارسيدو مخکې له اړمنو افغانانو سره اړيني بشري مرستې ترسره کړي. هند څو ځلې له پاکستانه غوښتې، چې د بشري مرستو لاريو ته اجازه وکړی، څو اړمنو افغانانو ته بشري مرستې ورسوي.
د افغانستان سره د هند بشري مرستې د پاکستاني پوځي اشتبليشمنټ پاليسيو او د ظالمانه نيابتي جګړې لپاره يوه مسئله ګرځيدلې ده. دوی په خپله چټله زړه ستراتيجی کې د افغان ملت سره خپله ژوره دښمني پالي. د دوی دښمنی او بد نيتی اراده ډېره ژوره ده، افغانان د سخت ژمي او اقتصادي بحران سره مخامخ دي، خو پنجابي منافق پوځيان د خپلې افغان ضد پاليسی له مخې په داسې خورا حساسو حالاتو کې بيا هم نه تېريږي.
که څه هم طالبانو په مسکو او دوحه کې له هندي چارواکو سره په خپلو خبرو اترو کې دا ځرګنده کړي وه، چې دوی له هند څخه د مرستو ترلاسه کولو توان لري. چمتو دي، څو د هند مرستې ترلاسه کړي. خو پاکستان د دواړو هيوادونو ترمنځ د يو خنډ په توګه ستونزې او ننګوني جوړوي او بشري مرستې د يوې سياسي وسيلې په توګه کار اخلي.

په داسې حال کې چې د طالبانو په دې نوی واکمنی کې د افغان سوداګرو لاری د ډيورنډ له توري کرښې هند ته د اوړيدو اجازه نه لري، څو خپل سوداګريزه توکي د پاکستان له خاورې هند ته ورسوي. خو پاکستانې لاری اجازه لري، څو له ازبکستان څخه د افغان خاورې له لارې پاکستان ته سوداګريزه تګ راتګ پيل کړي. د پاکستان د ملی امنيت سلار کار په تورخم کې د سوداګريزو توکو لاريو هر کلي ته ولاړ دی.
وسمهال هند يو ځلې بيا له پاکستان غوښتې د مرستو بار لاريو ته اجازه ورکړي، څو غنم او ژوند ژغورنکي درمل افغانستان ته ورسوي. په داسی حال کې چې پر افغانستان باندې يو سخت ژمی او اقتصادي بحران را روان دی. سخت ژمی او اقتصادي بحران په دې مانا دی چې افغانستان د ژوند ژغورنکو درملو او د خوراکي توکو له کمښت


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په څېر و لولئ

سره مخامخ دی. که څه هم یو شمېر هیوادونو افغانستان ته لکه چین، ترکیه، روسیه او اروپایي هیوادنو د مرستي لاسونه غځولي او پر افغانانو خوراکي توکي وېشي.
هند هم د روان کال د اکتوبر په اوومه نېټه په لیکلي بڼه کي د پاکستان له خاورې افغانستان ته د غنمو او درملو د لېږدولو ورانديز وکړو او هند د نوامبر په ۲۴ مه نېټه د پاکستان له حکومت څخه یو ناسم ځواب ترلاسه کړو.
هند د پنجشنبي په ورځ وویل، چي دوی لا تر اوسه هم له پاکستان سره په خبرو اترو بوخت دي، څو افغانستان ته د ژوند ژغورنکو درملو او پنځوس زره ټنو غنمو د ټرانسپورټ یا رسولو په یوه میکانیزم جوړجاړي ته سره ورسېږي. خو ټینګار کړي، چي د دي امدادي بشري توکو په لېږد کي باید کوم شرط شامل نه کړل شي.
همماله د هند د بهرنیو چارو وزارت ویاند ښاغلي تریندم باغچي په پرلپسي خبري کنفرانسونو کي او ورستی غونډه کي وویل، هند له بېلابېلو هیوادونو سره په بېلابېلو بڼو کي د افغانستان په اړه خبرو اترو ته دوام ورکوي.
پاکستان له خپلي پریکړي سره دا ترلي، چي هند ته اجازه ورکوي، څو افغانستان ته بشري د مرستو په توګه غنم او درمل په دې شرط ولیږدوي، چي دا بشري مرستي یوازې او یوازې د پاکستاني لاریو په واسطه انتقالیږي. دواړه خواوې له تېرې اونۍ راهیسی په افغانستان کي د روان بشري ناورین په پام کي نیولو سره د بند پاتي شویو درملو او غنمو کړکیچ د حل لپاره په خبرو اترو بوخت دي.
د هند بهرنیو چارو وزارت ویاند باغچي په ټینګار سره وویل، هند د اکتوبر په اوومه نېټه د پاکستان له خاورې افغانانو ته غنم او د ژوند ژغورونکي درملو د لیږد ورانديز وکړو او یوازې د نوامبر په ۲۴ مه نېټه د پاکستان له حکومت څخه ځواب ترلاسه کړو. موږ له هغه وخت راهیسي له پاکستان سره د دې بشري مرستو د اکمالاتو د څرنګوالي په اړه خبرې اترې کړي دي. باغچي په دې خبرې کنفرانس کي وویل، اجازه راکړئ، څو خپل باور بیا تکرار کړم، چي بشري دوستانه مرستي باید د شرایطو تابع ونه ګرځي. نومړي پرته له دې چي په نورو جزیاتو کي ولاړل شي وویل، دواړه خواوې سره د بشري مرستو د لیږد په څرنګوالي کي بېلا بېلي مسئلي نغښتي دي. هندي لوري د خپلو لاریو کارولو ته لیواله دی، ځکه دوی غواړي ډاډ ترلاسه کړي، چي مرسته شوي توکي په مستقیم ډول افغانانو ته پرته له خنډ او ځنډه ولیږږول شي. هندي لوري دا هم په پام کي لري، چي دا مرستي به یوازې د ملګرو ملتونو له لارې د اعتباري پېژندل شویو کسانو له لوري وویشل شي. هغه دا هم وویل، چي ایران او روسیې په ګډون د سیمه ییزو هیوادونو د لوړ پوړو امنیتي غونډه کي چي تیره میاشت د هند په کوربتوب رابلل شوي وه، هغوي ته هم د ورته لیدلوری فرصتونو شونتیاوو وړاندېزونه وکړل او د امنیتي ملحوظاتو له پلوه موږ په خپلو کي خپل نظرونه سره تبادله کړل، چي د افغانستان په اړه زموږ تګلاره څه ده.
د هند د بشري مرستو په اړه د پاکستاني پوځیانو شرطونه، هندي بشري مرستي باید له واګي بندره تر کابل پوري پاکستاني لارې یي انتقال کړي، پاکستان د هندي مرستو د لیږدولو څخه حق العبور غواړي. په داسي حال کي چي د بشري مرستو څخه څوک د حق العبور نه غواړي.
افغانانو د طالبانو واکمنیدو سره له یوه ناځرګنده راتلونکي او برخلیک سره مخامخ شوي دي. افغانستان ته یو سخت ژمي راروان دی، افغانستان له ستر اقتصادي او مالي بحران سره مخامخ دی.
افغانستان ته د هند دولت د غنمو په مرستو کي د پاکستاني اشتبلیشمنټ خندونه او ننګوني لټوي. په کابل کي طالب مشران ورته غلي دي.
پاکستان هند ته اجازه نه ورکوي چي مرسته شوي غنم افغانستان ته ورسوي. د هند بهرنیو چارو وزارت د ویناله مخې له څه باندې یوې میاشتي راهیسي له پاکستان غوښتنه کړې، څو د ځمکي له لارې زرګونه مټرک ټنه مرسته شوو غنمو ته د انتقالو اجازه ورکړل شي. هند غواړي په افغانستان کي د بشري ناورین د مخنیوي لپاره د پنځوس زره مټریک ټنه غنمو مرسته وکړي. پاکستان له خپلي خاورې د غنمو تېریدو ته اجازه نه ورکوي.
د پاکستان د ملي امنیت سلاکار معید هند تورنوي، چي د افغان سولي کي ورانکاره فعالیتونه ترسره کړي دي. له دې امله د افغانستان په اړه د هند په غونډه کي هم ګډون نه کوي. همدغه سلاکار بیا وایي، چي نړۍ باید له افغانستان سره تعامل ته ادامه ورکړي، ځکه له دې پرته بله لار نشته، بیا وایي دوی اړ دي چي له افغانستان سره بني اړیکي ولري او زیاتوي، چي نړیوال دې په افغانستان کي د طالبانو له حکومت سره اړیکي ونیسي او له دې ډلي سره دې مرستي وکړي. همدا پاکستاني د طالبانو واکمنی مدافع وکیل هند ته اجازه نه ورکوي، څو له اړمنو افغانانو سره بشري مرستي وکړي. په ورته وخت کي د افغان سوداګرو لارۍ اجازه نه لري، څو د پاکستان له خاوري هند ته خپل سوداګریزه توکي صادر کړي. پاکستاني چارواکو د طالبانو حکومت باندې دا منلي، چي له ازبکستانه د افغانستان له خاوري پاکستان ته د سوداګریزو لاریو ټګ راټګ پیل کړئ. د پاکستان د ملي امنیت سلاکار په تورخم کي له ازبکستان د سوداګریو توکو لاریو هرکلي کوي.
پوښتنه دا ده، چي د طالبانو حکومتوالی کي د افغانستان اقتصاد هم د پاکستاني پوځي اشتبلیشنمنټ له خوا کنټرولیږي؟

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنېزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ